(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست

د موضوع سرلیک (عنوان) — مخ


د ژباړن سریزه الف

د مصنف لنډه پېژندنه ع

د خپرونکی سریزه ۱

د الله (ج) او بندګانو ترمنځ د واسطی معنی ۱۸

چاچې قرآن ولوستلو او عمل یې ور باندې وکړ... ۲۰

رسولان د الله او بندګانو ترمنځ د احکامو رسولو په برخه کښې واسطې دي ۲۴

غیر مشروع واسطه ۲۹

فرښتو او انبیاؤ سره د تکلیف لرې کولو واک نشته ۳۱

په الوهیت سره د فرښتو او انبیاؤ نیول کفر دی ۳۳

علماء د رسول الله صلی الله علیه وسلم او امت ترمنځ یې یواځې د اسلام ..... ۳۵

د خلقو او پاچایانو ترمنځ واسطې په درې ډوله دي ۳۹

شفاعت د الله پاک د اذن پورې اړه لري ۴۳

داهل په حق کښې د اعلی له طرفه دعا غوښتل او دغه راز بالعکس ۵۳

دواړه مشروع طریقې دي.

دعا داعي او مدعو له دواړو ته ګټه رسوي ۵۷

په الله باندې توکل او یواځې د الله تر څخه ویرکا او امید ساتل د

توحید څخه عبارت دی. ۶۶

هغه اشیا چې الله پیدا کړي دي انکار ترې نشي کیدای ۷۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



خَزَنَتُهَا أَلَمْ يَأْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنكُمْ يَتْلُونَ
عَلَيْكُمْ آيَاتِ رَبِّكُمْ وَيُنذِرُونَكُمْ لِقَاءَ يَوْمِكُمْ
هَٰذَا ۚ قَالُوا بَلَىٰ وَلَٰكِنْ حَقَّتْ كَلِمَةُ الْعَذَابِ
عَلَى الْكَافِرِينَ - (۱)

ترجمه: روان به کړی شي کافران ر په ټېل وهلوسره جهنم ته ډلې ډلې ترهغه وخته پورې چې راشي دوی دوزخ ته، نو پرا به نستی شي دروازې د هغې، او به وايي دوی ته محافظان (څوکيداران) د دغه دوزخ آيا نه وو راغلي تاسی ته رسولان ستاسی د جنس نه چې لوستل به دغه رسولانو پر تاسی آيتونه د قرآن د رب ستاسی، او ويرېدول به دوی تاسی لره له ملاقات د دغه ورځې ستاسی نه، وو به وايي دوی (کفار) ولې نه راغلي وو مونږ ته او لوستلي يې وو مونږ ته، ليکن ثابت شو حکم د عذاب پر کافرانو.

ابن عباس رضی الله عنهما د قرآن کريم د معمول گرځولو په برخه کښې داسی ويلې دی:

چاچې قرآن ولوستلو او هغه څه چې په قرآن کريم کښې دی په هغې يې عمل وکړ نو الله پاک يې متکفل دی نه به په دنيا کښې گمراه او بې لارې شي او نه به په آخرت کښې بد بخت بد مرغه شي

---

(۱) سورة الزمر: ۷۱ -

(c) ketabton.com: The Digital Library



په الله او رسول نو د الله او په ورځ د آخرت باندي ايمان لرل شو -

الله تعالى د خپلو پيغمبرانو سره د نصرت او کومک کولو قيصې او د غه راز يې د کافرانو د هلاکت د ځرنګوالي قيصې چې پيغمبران يې د روغ ژن کنلي وو بيان کړي دي او فرمايلي دي:

(وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِينَ - إِنَّهُمْ لَهُمُ الْمَنْصُورُونَ - وَإِنَّ جُنْدَنَا لَهُمُ الْغَالِبُونَ) (۱)

ترجمه: او بيشکه مخکښې صادره شوې ده وعده زمونږ د پاره د رالېږل شويو بندګانو زمونږ، چې بيشکه پيغمبران هم دوئ ته به مدد ورکول شي، او بيشکه لښکري زمونږ خامخا هم دوي غالبه ربريالي، دي (کافرانو)

## همدغه ډول الله تعالى فرمايلي دي:

(إِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ الْأَشْهَادُ) (۲)

ترجمه: بيشکه چې مونږ خامخا مدد کوو له خپلو رسولانو سره او ر مدد کوونه، هغو کسانو سره چې ايمان يې راوړی دی په ژوند د دنيا کښې او په هغه ورځ چې قائم به شي، و به دريږي، شاهدان (له ملائکو، انبياؤ، او مؤمنانو

---

(۱) سورة صفت: ۱۷۱-۱۷۳ - (۲) سورة مؤمن ۵۱ -

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه چې دي د داسې عمل والا دي چې نيت نه دی، پس
دُعَا مه غواړه زمانه د هغه چا په باره کښې چې نشته
دی تالره ده هغه (د ایمان) په باره کښې یقین بیشکه
زه پند درکوم تا ته چې (نه) شې ته له جاهلانو څخه
وویل ده: (نوح) ای ربه زما! یقیناً زه پناه غواړم پتا
سره له دی چې سوال وکړم له تانه د هغه چا په باره
کښې چې نشته ما لره د هغه په ایمان باندې یقین
او که ته بخښنه و نه کړی ماته او رحم و نه کړی په
ما باندې نو شم به زه له زیان کارانو نه.

او هم سفارش کونکی، او دعا والا چې د الله پاک په
<sub>کوی د هغه سفارش</sub>
در بار کښې سوال او سفارش او دعا د الله تعالیٰ د قضا
قدر او مشیت پوری اړه لری پس د الله هغه ذات دی
چې قبلونکی د سفارش دی او اجابت کونکی د دعا دی
او هغه ذات دی چې د سبب او مسبب دواړو خالق دی
او دا د عا د هغو اسبابو د جملې څخه ده کوم چې د
الله تعالیٰ له طرفه مقدر شوی دی.

پس کله چې حقیقت په دی ترتیب سره دی بیا نو
محض اسباب مؤثر کڼل بې له دی چې مؤثر حقیقی
ته یې نسبت وشی، شرک فی التوحید کڼل کیږی
او د سبب څخه په دی وجه کار نه اخستل چې په دې
برخه کښې یې سببیت تثبیت نه دی دا د عقل تنقیص

